# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

دهستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه : الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښــې ده ترڅو تاسو په تله کې تېری او ټګي ونه کړئ.
دتفسـير ځينې عالمان له دې نه داستنباط کوي چې د دنيا د هسـتۍ نظام پرعدل ولاړدی، کله چې عدل له منځه لاړ شي نو دهســـــتۍ نظام هم له منځه ځي.

د تاسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهار شنبه ۱۸ حوت ۱۴۰۰هـ ق | ۶ شعبان المعظم ١٤٤٣ هـ ق | ۹ مارچ ۲۰۲۲ م | شماره مسلسل ۰۴


## د محاکمو پر عريضو، فيصلو او وثايقو د پيسو نه اخيستلو په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان

د افغانســـتان اســـلامي امـــارت د عاليقـــــدر اميرالمـــــــؤمنين د ١٤٤٣/٧/٢٦ نېټـــې پـــه ۳۴۲ج۱ ګڼــه مکتــوب کــې راغـلي: ((پخــوا چــې پــر عرايضـــو، فيصـــلو او وثـــايقو کـــومې پيســـې اخيســـتل کېـدلې او پـه بـانکونو کـې جمعـه کېـدلې پـه راتلـــونکي کـــې دي دغه پيسې نه اخيستل کېږي.))

## د سترې محکمې محترم رييس له عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمـې محــترم ريـيس شـيح الحـديث عبـدالحکيم (حقـاني) صـاحب پـه (١٤٤٣/٧/٢٦هـ ق)نېټـه کندهار ولايت کې له عاليقـدر اميرالمـؤمنين حفظه الله سره د کتنـې پـر مهـال پـر يـو شـمېرمهمـو موضوعاتو خبرې وکړې.

دغـه راز د سـترې محکمـې محـترم ريـيس صـاحب د جنـوب زون د تميـز رياسـت لـه مسوولينو سره ناسته وکړه، د يـاد رياسـت د مســوولينو ســتونزې يــې واورېــدې او اړونــد مسوولينو ته يې د يادو ستونزو د حل هـدايت وکړ.

د سترې محکمې رييس صاحب له يادو ليدنو وروسته د کندهار ولايت د نظامي محکمې له مسوولينو سره هم وکتل.

محـترم شـيح الحـديث عبـدالحکيم (حقـاني) صـاحب لـه کنـدهار ولايـت وروسـته د يـوه پـلاوي پـه مشرۍ هلمنـد تـه سـفر وکـړ او د ولايت مقام په مقر کې يـې د هلمنـد لـه والي محترم مولوي عبدالاحد طالب، ديني عالمانو او نورو ولايتي مسوولينو سره وکتل.

محترم حقاني صـاحب د هلمنـد مجاهـدينو او مېړنيو ولسونو ته د اشغال څخه د خلاصون او بريـا د مبـارکۍ ويلـو تـر څنـګ د ټولـو مجاهدينو مبارزه او قربانۍ وستايلې .

دغـه راز محـترم شـيح الحـديث عبـدالحکيم (حقاني) صاحب په يـاد ولايـت کـې د شرعـي محـاکمو د فعـاليتونو او روانـو چـارو ارزونـه وکړه او اړوند مسوولينو ته يې د قضايي چـارو پر شفافيت او چټکتيا د ټينګار ترڅنګ لازمي سپارښتنې وکړې .

د هلمند والي د سترې محکمې محترم رييس صاحب ته ښه راغلاست ووايه او ياد ولايت ته د هغه راتګ يې يو نېک اقدام ياد کړ.

نوموړي وويل، له تېرو شپړو مياشتو راهيسي عدلي او قضايي ارګانونو خپـل فعاليتونـه پيـل کړي او په ګډه همږغۍ او همکـارۍ سره يـې کوښښ کړی چې د اسلام د سـپېڅلي ديـن او محمدي شريعت په رڼا کې ټولو قضيو ته پر وخت رسېدنه وشي.

د يادوني وړ ده چې د سترې محکمې محـترم ريـيس صـاحب تـر هلمنـد وروسـته پـه (١٤٤٣/٨/٢ هـ ق )نېټـه ميـدان وردګ ولايـت تـه هـم سـفر وکـړ او هلتـه يـې د محـاکمو لـه مسوولينو سره وکتل.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د ١٤٤٣/٧/١٦ نېټې ۳ شمېره متحدالمال**

**د افغانســتان اسـلامي امـارت تميزونـو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محاکمو ته!**

**السلام عليکم و رحمت الله و برکاته**

وبعـد: دارالانشـاء رياسـت د محکمـې د تبديل د بعضو موضوعاتو په باره کې چې د شهري، استيناف يا تميز د يوه ديوان څخـه بـل ديـوان تـه يـې تبـديلي غوښتې وي، د سترې محکمې د عالي شورا محترم مقام ته داسې وړانـديز کـړی و: ځينـې موضـوعات دارالانشاء رياست ته راځـي او تبـديل يـې د يوه ديوان (د شـهري، اسـتيناف ، يـا تميـز) څخه بل ديوان ته غوښتی وي، دغـه تبـديل هــم د ابتــدائيې او اســتيناف محــاکمو د تبديلۍ په شان کېدلای شي او که نه؟
او کــه تبــديل کېــدلای شي نــو پــه کومــو شرايطو تبديل ورکول مناسب دي.

د دارالانشاء رياست د فوق الـذکر وړانـديز په اړه د سترې محکمې عالي شـورا لخـوا د تصويب نمبر(١)، نېټـه ١٤٤٣/٦/٧ هــ ق پـه وسيله لاندې هدايت صادر شو:

((د شهري محکمې، استيناف محکمـې او د تميز عـالي رياسـت د يـوه ديـوان څخـه بـل ديـوان تـه تبـديل کېـدلای شي خـو شرايـط غواړي چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

**د شـهري محکمـې د ديوانـو د تبـديل شرايط:**

١- موضوع به د شهري محکمې پـه مربوطـه ديوان کې جريان نه لري.

٢- د ديوان تبديل بـه د يـوه ولايـت څخـه بـل ولايت ته نه وي، بلکې پـه داخـل د ولايـت کـې به وي.

٣- د شهري محکمې رييس به تحريراً د تبديل غوښتونکي کس د تبـديل غوښـتلو عـذر تائيـد کړی وي.

**يادونه:** د شهري محکمې څخه تبـديل غوښـتل په ولايت کې بلې ابتدائيه محکمـې تـه د نـورو ابتدائيه محاکمو د تبديل په شان دی.

**د يوې ابتدائيې څخه بلې ابتدائيې محکمـې ته د تبديل شرايط:**

١- موضوع به په مربوطه محکمه کې جريان نـه لري.

٢- د ابتدائيې تبديل به د يوه ولايت څخـه بـل ولايت ته نه وي، بلکې پـه داخـل د ولايـت کـې به وي.

٣- د اسـتيناف محکمـې ريـيس بـه تحريـراً د تبديل غوښتونکي کـس د تبـديل غوښـتلو عـذر تائيد کړی وي.

**د استيناف ديوانو نو د تبديل شرايط:**

١- موضوع به د استيناف په مربوطه ديوان کې جريان نه لري.

٢- د اسـتيناف ريـيس بـه تحريـراً د تبـديل غوښتونکي کـس د تبـديل غوښـتلو عـذر تائيـد کړی وي.

**د تميـز عـالي رياسـت د ديوانـو د تبـديل شرايط:**

١- موضوع به د تميز عالي رياست پـه مربوطـه ديوان کې جريان نه لري.

٢- د تميز رييس به تحريراً د تبديل غوښتونکي کس د تبديل غوښتلو عذر تائيد کړی وي.

**د يـوه استيناف څخـه بـل استيناف تـه د تبديل شرايط:**

١- موضوع به په مربوطه استيناف کې جريان نه لري.

٢- د مربوطه تميز د رييس لخوا به تحريـراً د تبديل غوښتونکي کس د تبديل غوښـتلو عـذر تائيد شوی وي.

**د يـوه تميـز څخـه بـل تميـز تـه د تبـديل شرايط:**

١- موضوع به په مربوطه تميز کې جريـان نـه لري.

٢- د سترې محکمې د رييس لخوا به تحريـراً د تبـديل غوښـتونکي کـس د تبـديل غوښـتلو عذر تائيد شوی وي.

**د فاسدې ادارې لخوا د ورکړل شوي تبديل حکم:**

هغه تبديل چې فاسدې ادارې ورکړی وي بيـا موضوع په هغه محکمه کې چـې تبـديل ورتـه شوی دی جريان پيدا کړی وي يا نه پـه دواړو صورتونو کې دغه تبـديل قابـل اعتبـار نـه دی موضوع بـه د يـو جانـب د عـارض کېـدلو پـه وخــت خپلــې مربــوطې محکمــې تــه حوالــه کيږي.))

په پورته ذکر شوي تصويب کـې د درج شـوو موضوعاتو په بـاره کـې د دې متحـدالمال پـه استولو سره ټولو تميزونو، ديوانونو، مرافعـه او ابتدائيه محاکمو ته خبر ورکـول کيـږي چـې خپلې شرعي او اصـولي کړنـې د هغـې پـه رڼـا کې برابرې کړي.

## د کابل له توقيف خونې څخه ۲۹۸ کسان خوشي شول

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د مشـرتابه پـه سپارښتنه د بنديانو د دوسيو د څېړلـو لپـاره ټاکل شوي څلور کسيز پلاوي، د يوې ۱۵مـاده ييزې کـړنلارې پـر بنسـټ د کابـل د توقيـف خونې د سلګونه تنو دوسيې او قضيې پـه کـره توګـه وڅېړلـې، لـه ډلـې يـې نـن چهارشـبنې (۱۴۴۳/۷/۲۹ نېټه) د بېلابېلو جرمونو په تور د نيول شـويو ۲۹۸ تنـو د خـوشي کېـدو پرېکـړه وکړه.

د زنــدانونو چــارو د ســمون اداري عمــومي رييس محترم مولوي محمديوسف "مسـتري" په دې اړه د جوړو شـوو مراسـمو پـه تـرڅ کـې، چې د هېواد د سترې محکمې او کورنيـو چـارو وزارت اســتازو او د دغــې ادارې يــو شــمېر چارواکو پـه کـې ګـډون درلـود، د يـادو کسـانو پرخوشي کېدو خوښي وښوده او زياته يـې کـړه، هيلـه منـد دی چـې دوی بـه لـه دې وروسـته داسې عمـل تـرسره نـه کـړي، چـې د قـانون او شريعــت خــلاف وي او بيــا يــې د ازادۍ د سلبېدو لامل شي.

محــترم مســتري دغــه راز وويــل، د افغانســتان اســلامي امــارت ځــان د ټــولنې د اصــلاح پــر وړاندې مسوول ګڼي او پـه دې برخـه کـې بـه خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

په ورته وخت کې د کابل توقيف خونې رييس محترم قاري عبدالغني "عادل" په خپلو خبرو کې وويل، د يادې ۱۵ماده ييزې کـړنلارې پـر بنسټ هغه توقيفيـان د خوشـې کېـدو وړ وو، چې د جـرم پـر وړانـدې يـې د حـبس د ټاکـل شوې مودې يوه زياته اندازه تېره کړې وي، يـا هغوی چې حق الله پرې وي او په توقيف کـې اصلاح او د حبس موده يې تېره کړې وي.

په ورته مهال، خوشي شوو کسـانو د دوی پـر خوشي کېـدو خوشـي وښـوده او وويـل، د دې ترڅنـګ چـې لـه دې وروسـته بـه د قـانون او شريعت خلاف عمل نه ترسره کـوي، د هېـواد له ځوانانو هم غواړي، څو داسې عمـل تـرسره نـه کـړي چــې د ټــولنې د نظــم د اخــلال او ګډوډولو لامل وګرځي.

ياد مراسم، د سترې محکمې د غړي محـترم شـيخ مولـوي خيرجـان "خيرخـواه" لخـوا د دعايې په ويلو سره پاي ته ورسېدل.

### ادامۀ فرمان اميرالمؤمنين عمر بن خطاب خليفه دوم اسلام (رض) به ابو موسى اشعرى (رض) در باب قضاء

سپس هشيار باش! هشيار باش! در مورد قضيۀ که نزد تو آورده ميشود که حکم آن نه در کتاب خداست و نه در سنت و ارشادات پيامبر (ص) پس در اين گونه امور مسايل هم مانند و همتا را بشناس و به يکديگر قياس کن و بر آن حکمی مبادرت کن که به خشنودی خدا نزديکتر و به حق پيوستگی بيشتر دارد.

از خشمگين شدن، از برآشفتگی، از کج خلقی، از آزردن مردم و از ترشرويی در هنگام محاکمه يا نزد طرفهای دعوا بپرهيز! زيرا قضاوت عادلانه در موارد حق از آن جمله اعمالی است که خداوند پاداش آن را می دهد و حسن آوازه و شهرت نيک انسان را بلند ميگرداند، کسيکه در راه حق گرچه بر ضرر او هم باشد نيت خود را خالص برای رضای خدا نمايد، خداوند رابطه در بين او و مردم را نيکو می سازد، و آن کسيکه خود را بصورت ريا کاری نيکو جلوه ميدهد و در واقع آن طور نيست، خداوند رابطه بين او و مردم را بد می سازد؛ زيرا خداوند متعال هيچ عملی از بندگانش را قبول نمی کند مگر آنکه خالص از برای رضای او تعالی باشد.»

(نظام القضاء فی الشريعة الاسلاميه، تأليف دکتور عبدالکريم زيدان، چاپ بيروت ص (۷۵)

# د سترې محكمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست راپور

**الـف : د استهداآتو پـه برخـه كـې د تـدقيق او مطالعاتو د عمومي رياست ځينې فعاليتونه:**

- پـه هغـه موضـوعاتو كې چې مـدعي عليـه پـه دفـع كـې مـدعى بالـدفع وګرځـي نـو محكمـه بـه د مدعي معامله ورسره كوي.
- پـه فـارغ وخـت كـې د يـو ديـوان رييـس كـولاى شي د بـل ديـوان رييس څخـه كومـك او تعـاون و غـواړي د فيصلې پـه ترتيـب كـې، نـه د حكـم پـه كولو كې.
- هغـه مېرمنـې چـې پـه تېـر حكومـت كـې د محاكمو لـه لوري پـه غيـر شرعي طريقـه تفريق شوې او اوس مهـال يـې خاونـدان خپلـې مېرمنـې بېرتـه غـواړي... نـو داسـې موضـوعات دې د افغانسـتان مشـهورو علـماوو تـه د اسـتفتاء لپـاره راجـع شي او تشهير دې شي.
- هغـه نقليـه وسـايط چـې د نشـه يـي توكـو او قاچـاق لـه املـه پـه تېـر حكومـت كـې ضـبط شـوي د ا.ا.ا د (٦) مصـوبې د (٩) بنـد پـر اسـاس دې د ذيربطـو ارګـانونو د نمايندګانو پـه حضـور كـې بېرتـه پـه اصـولي طريقـه د هغـې اصـلي مـالكينو تـه وسپارل شي.
- هغـه مـدافع وكـيلان چـې د مجلـة الاحكـام د كتـاب الوكالـة مطـابق، شرعـي وكالـت پـه لاس ولـري، محـاكم كـولاى شي د اصـولو مطـابق يـې موضـوع واخلي.
- كـه چېـرې معتمـد نقـدي وجهـې يـا جنسي- جمـع دهـۍ پـه تناسـب د تضـمين تـوان ونلـري، وزيـر يـا لـومړۍ درجـه اعطـاء امـر كـولاى شي موضـوع د اداري اداري شـورى تـه وړانـدې كـړي او لـه هغـې لاري تضمين تثبيت او وثاكي.
- د ضرورت پـه وخـت كـې د وكيـل او مؤكـل د عكـس لګـول د وكالـت خـط يـا د نـورو وثـايقو پـه جوړولو كې مشكل نه لري.
- د غـلا او د قطـاع الطريـق دوسـيې چـې مخكې پـه نظامي محـاكمو كـې بـررسي كېـدلې فعـلاً په خپلو مربوطه محاكمو كې بررسي كېږي.
- د هغـو قبـالو چـې اسـاس يـې د فاقـد صـلاحيت واليـانو د اقـرار څخـه وي د هغـو د صـدور څخه دې په كلكه ډډه وشي.
- دولتـي اداري كـولاى شي د خپلـو حقـوقي موضوعاتو د دعوو د پرمخ وړلو لپـاره د خپلې اداري يـو تـن رسمي كارمنـد د وكيـل پـه حيث معـرفي كـړي او موضوع په مربوطه محكمه كې مخ ته يوسي.
- د قصـاص پـه موضـوعاتو كـې د مشـرتابه د (٤٩ج٢) ١٤٣٨/٨/١٠ ګڼـه مكتـوب هـدايت رعـايتول ضروري دى.
- مشـبوهه اسـناد د حكـم مـدار نشـي كيدلاى.
- هغـه دوسيې او وكالـت خطونـه چـې پـه تېـره اداره كـې د شريعـت لـه اصـولو څخـه خـلاف ترتيـب شـوي وي، محـاكم پـه كـې د لايحـې او اصـولنامې مطابق اجراآت كوي.
- د ولسـواليو ابتدائيـه محـاكم د خپـل صـلاحيت سره سـم د هغـو دعـوو چـې پـه حقـوقي او جـزائي موضـوعاتو كـې ورتـه وړانـدې شي پـه حـل او فصل بانـدې يـې اقدام كـوي. البتـه كلـه چـې نومـوړې موضـوع يـادې محكمـې تـه ولاړه شي نـو مربوطـه ديوان تـه بـه راجع كېږي هغـوي بـه د خپـل صلاحيت له مخې لازم اقدام كوي.

**ب : د تقنينـي سـندونو د تنظـيم، پرېكـړو او قرارونو په برخه كې:**

- د عاليقدر قاضي القضات صاحب د هدايت پـه اساس د كابل ولايت د مرافعه محكمې (دريمې، څلورمې او شپږمې حوزې) د وثايقو امرينو د تـدقيق او مطالعـاتو عمومي رياست په همكارۍ په (۱۴) ډوله وثايقو كار وكړ او هغه يې د شريعت په اصولو كې ترتيب كړې، چې ياد وثـايق (۲) ۱۴۴۳/۷/۱۱ ګڼـه نېټـې پيشـنهاد د سـترې محكمې عالي مقام ته تقديم شوې چې په اړه يې محترم شيخ الحـديث قـاضي القضـات صـاحب داسې هـدايت وكړ، د متن مطابق وثايق تائيد دي، د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست دې د مـالي او اداري چـارو رياسـت پـه همكارۍ د چاپ اړوند چارې تنظيم او ترتيب كړي چې فعلاً چاپ ته آماده دي.
- د تـدقيق او مطالعـاتو د عمـومى رييـس پـه لارښـوونه ددې رياسـت قضـائي مـدققينو پـر (۳) نوعـه وثـايقو كـار وكـړ او هغـه يـې د شريعـت پـه اصـولو كـې پـه پښـتو او دري ژبـو ترتيـب او د سـترې محكمـې عـالي مقـام تـه پيشـنهاد كـړې، چـې فعـلاً د چاپ لپاره اماده دي.
- د (ACG) شركت اسناد چې د عـدليې وزارت د ۱۴۰۰/۱۱/۱۹ نېټـې د (۳۰۸۹) ګڼـه مكتـوب د سـترې محكمې د هدايت په اساس دغه رياست تـه را رسېدلي وو د تدقيق او مطالعاتو عمومی رياست يـاده موضـوع د خپـل غـور او تـدقيق لانـدې ونيـوه، نـو جوتـه شـوه چـې موضوع د دارالافتـاء محـترم رياست پـورې اړه لـري او ورته ولېږل شوه.
- د محترم مقام د هدايت پر اساس د يكشنبې پـه ورځ د ۱۴۴۳/۷/۲٦ هـ ق كال د تدقيق او مطالعاتو عمـومي رياست په دفتر كې د مفتي حزب الله "ابراهيمـي" پـه مشرۍ چې د مالي او اداري چارو محترم عمومي رييس، د مـالي او حسـابي چارو محترمو رييسانو د اداري چارو محترم رييس او د جنسي محاسبو امر ورسره ملتيا كوله غونډه ترسره شوه چې تـر بحث او خبرو وروسته د ناستې ګډونوال دې نتيجې ته ورسېدل.

(( اولـس (۱۷) قسـمه وثـايق بايـد د بهرنيـو، عامـه اړيكـو او مطبوعاتو رياست ته وسپارل شي چې هغـوى يـو كتـابي شكل وركړي البته مذكوره وثايق بايـد خانـه پـوري شـوي وي، ترڅـو محاكم د طرزالعمل كار ورڅخه واخلي، د وثايقو هغه دوه سـوه (۲۰۰) كتابونه چې هر يو يـې سل پـاڼې لـري زمـونږ پـه تحويـل خونه كې پراته دي بايد د ولاياتو سره په مقايسـه د طرزالعمـل په ضميمه كې ټولو ولاياتو تـه تقسيم شي ترڅـو محـاكم خپـل اجراآت وكړي.))

## گزارش رياست محكمۀ استيناف ولايت كاپيسا

مسؤولان محكمۀ استيناف ولايت كاپيسا گفتـه انـد كـه بـه سلسله نشست روزهای دوشنبه مورخ ۲۵ دلو سال ۱۴۰۰ هــ ش مصادف با ۱۲رجب ۱۴۴۳هـ ق تحت رياست محكمۀ استيناف اين ولايت جلسۀ ماه وار تدوير يافت.

در ايـن جلسـه رؤسـا و اعضـای قضـائی و اداری دواويـن محكمـه اسـتيناف و شـهری ولايـت كاپيسـا و محـاكم ابتدائيۀ ولسوالی‌ها حضور داشته‌اند.

در ابتداء جلسه توسط قاری راشد بـا تـلاوت چنـد آيات كـلام الله شريف آغاز شد، بعداً مولوی ميرآقـا مشـهوربه ذبـيح اللـه رئيس محكمۀ مرافعه اجندا و موضوع جلسۀ امروز را بـه همـه پرسونل محكمه استيناف ولايت كاپيسا واضح كرد و هريک به گونه مفصل مورد بحث قرارداد.

موصـوف در اشـاره بـه دقـت نمـودن در وقـت و زمـان گفـت، سـهل انگـاری و بی‌پروايـی در وقـت و زمـان خيانـت اسـت، وقـت كشـی و فـرار از مسؤوليت عمـل نابخشـودنی است.

رئـيس محكمـه همچنـان اظهارداشـت كـه طبـق رهنمـود يـا طرزالعمـل كـه از طـرف مقـام محـترم سـتره محكمـه مواصـلت مـی‌ورزد، وقـت شروع و خـتم رسـميات عيـار كنيد.

مولـوی ميرآقـا گفـت كـه حـاضری هـر يـک روز، دوخانـۀ جداگانـه وجـود دارد كـه يكـی آن هنگـام شروع رسـميات كـاری اسـت و ديگـری آن خـتم كـاری می‌باشـد، تمـام پرسـونل محـاكم بـه حـاضری خـويش پابنـد باشـند چـون حـاضری موجوديـت و يـا عـدم موجوديـت يـک كارمنـد را معرفـی مـی گيـرد؛ پـس در حـاضری تـان دقـت بيشـتر داشته باشيد.

موصـوف گفـت كـه وظـايف خـود را بايـد مسـئولانه و صـادقانه انجـام دهـيم، در ضـمن رئـيس اشـاره نمـود كـه تمـامی رهنمـود و طرزالعمـل و يـا هـر مكتـوب ديگـر كـه از طرف مركز وارد می‌شود بايد بر وفق آن عيار باشيم.

رئـيس محكمـۀ اسـتيناف ولايـت كاپيسـا عـلاوه كـرد كـه بـه همـۀ مـا ضروری اسـت كـه كليـه ادارات محـاكم مطـابق مكانيزم و پاليسی آن عمل نماييم.

او در اشاره بـه همـه پرسـونل قضائی گفـت كـه بايـد جهـت اعـتلاء محكمـه مرافعـه ولايـت كاپيسـا و بهبـود بخشـيدن فراينـد رسـيده‌گی بـه قضـايا وظـايف خـود را مسـؤولانه انجام دهيم.

بـه گفتـۀ موصوف، كليـه قضـات بايـد درنظـر داشـته باشـند كـه رفتـار و صـحبت كـردن قـانونی بـا مـدعی و مـدعی عليـه را اصـل خـويش قـرارداده و از حـرف و سـخن زدن يـک طرفه خودداری نمايند.

## د پكتيا ولايت د مرافعه محكمې رييس د استيناف څارنوالۍ له رييس او ورسره مل پلاوي سره وكتل

د پكتيا ولايت د استيناف محكمې مسوولين وايي چې د ۱۴۴۳هـ ق كال د اوومې مياشتې په ۲۲مـه نېټـه د پكتيا ولايت د مرافعه محكمې رييس مفتي عبيدالله «خالـد» د دغه ولايت د استيناف څارنوالۍ لـه رييس مولوي نظـيم غزالـی او نـورو څـارنوالانو سره پـه خپـل كـاري دفتركې وكتل.

د سرچينـې د معلومـاتو لـه مخـې، پـه دې ليدنـه كـې د پكتيـا ولايـت د مرافعـه محكمـې رييـس يـادو څـارنوالانو تـه لازم هـدايات وكـړل او د هغـوي ستونزې يې واورېدې.

دغـه راز د اسـتيناف محكمـې رييـس او څـارنوالانو پـه دې ليدنـه كـې د محـاكمو او څـارنواليو تـرمنځ د ښې همغـږۍ پـه تـړاو خـبرې وكـړې، د سـتونزو د حـل لپـاره يـې لازمـې مشـورې وكـړې او د محبوسـينو د احوالو په اړوند يې مفصلې خبرې وكړې.

## فراه ولايت كې د ملكي او نظامي ادارو له مسوولينو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه

د چهارشـنبې پـه ورځ ۱۴۴۳/۷/۱۵ نېټـه د فـراه ولايـت پـه مقـام كـې اداري ناسـته تـرسره شـوه چـې د فـراه ولايـت د ډېـرى ملكـي او نظـامي اداراو مسـوولينو او رييسـانو پـه كـې ګـډون درلود.

د فـراه ولايـت د مرافعـه محكمـې عمـومي رييـس مولـوي محمـدګل (صـياد) چـې د فـراه ولايـت د مقـام پـه رسـمي غوښـتنه او بلنـه يـې پـه يـاده غونـډه كـې ګـډون وكـړ د غونـډې د اجنـډا اړونـد خپلـه عالمانـه وينـا وكـړه او وويـل، الحمدللـه د اوس لپـاره پـه خپلـو ولسـواليو كـې د خلكـو پـه چوپړ او خدمت كې دي، شرعي فيصلې كوي.

د مرافعـه محكمـې رييـس زياتـه كـړه، پـه مركـز كـې د مرافعـه محكمـې ديوانونـه، ښـاري محكمـې رياسـت د ثبـت او اسـنادو امريـت او اداري دفترونـه د مرافعـه محكمـې رياسـت تـر چـتر لاندې د فراه د خلكو په خدمت كې دي.

د اونـۍ پـه رسمي ورځـو كـې خپلـې فيصلـې او شرعـي اسـناد د اسـلامي شريعـت او د سـترې محكمې د اصولو په چوكاټ كې ترسره كوي.

د اسـتيناف محكمـې رييـس وويـل، د افغانسـتان اسـلامی امـارت د عاليقـدر اميرالمـؤمنين صـاحب حفظـه اللـه تعـالی، د هـدايت پـر اسـاس هغـه كسـانو تـه بايـد نكـاح خطونـه ترتيـب كـړو چـې داسـې نـاروغي ولـري كـوم چـې د افغانسـتان پـه داخـل كـې يـې د طبـي وسـايلو د نـه شـتون لـه املـه درملنـه ناشـونې وي، او عـامې روغتيـا د طبـی كميسـيون د ډاكترانـو تـر تاييـدۍ وروسـته اسـتيناف محكمـې رياسـت تـه پـه رسـمي بڼـه معرفي شي.

پـه ورتـه وخـت كـې د فـراه ولايـت د اسـتيناف څـارنوالۍ نـوي معـرفي شـوي رييـس ابودوجانـه د څـارنوالۍ د صـلاحيت او مسـووليت پـه اړه د فـراه ولايـت د مرافعـه محكمـې عمـومي رييـس مولـوي محمـدګل (صـياد) زياتـه كـړه، هغـه دوسـيې چـې جزايـي اړخ لـري د اوس لپـاره د جنـايي مـديريت څخـه محـاكمو تـه د شرعـي حكـم او فيصلې لپـاره راځـي او يـو شـمېر حقـوقي دوسـيې هـم د عـدليې رياسـت لـه خـوا محـاكمو تـه رالېـږل كيـږي او محـاكم هـم پـر خپـل وخـت او زمان ورته رسېدنه كوي.

دغـه راز د عـالي مقامـاتو د هـدايت پـر اسـاس د فـراه ولايـت د ښـاري محكمـې د رييـس مولـوي قيام الـدين پـه مشرۍ يـو پلاوی جـوړ شـو چـې د فـراه ولايـت د مركـز او ولسـواليو د زنـدانونو او زنـدانيانو څخـه ليدنـه وكـړي، د هغـو كسـانو دوسيې چـې قضايي مراجعـو تـه تـر اوسـه نـه دي سپارل شـوې، ان شاءالله پـه نـږدې راتلـونكي كـې به ورته رسېدنه وشي.

د ناسـتې ګـډونوالو دغـه ډول غونـډې ګټـورې وبللـې او وويـل، د همغـږۍ دا ډول غونـډې بـه د اداراو تر منځ شته ستونزې حل كړي.

د ناسـتې پـه پـای كـې حـاضرينو د فـراه ولايـت د مرافعـه محكمـې د كړنـو او اجراآتـو څخـه خوښـي څرګنـده كـړه، د دې محكمـې د رييـس مولـوي محمـدګل صـياد لـه هـر اړخيـزو څرګنـدونو او لارښوونو څخه يې مننه وكړه.

# گزارش اجراآت و کارکرد ریاست عمومی تفتیش قضائی ستره محکمه

گزارش اجراآت و کارکرد های ریاست عمومی تفتیش قضائی طی ماه های جمادی الثانی و رجب المرجب سال جاری هجری قمری به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

۱- **در محکمۀ استیناف ولایت کابل:** رسیده‌گی به موضوع قضائی محکومیت یکتن از منسوبین محکمه استیناف ولایت کابل به اتهام وهابیت و عضویت در گروه داعش طبق هدایت مقام شورای عالی ستره محکمه و مکتوب شماره (۱۰) مورخ ۱۴۴۳/۶/۲۳ هـ ق ریاست دارالانشاء شورای عالی ستره محکمه، مفتشین قضائی بتأسی از هدایت فوق مبنی به برائت شخص مذکورابراز نظر نمود.

۲- **در محکمۀ استیناف ولایت پنجشیر:** به تاریخ ۱۴۴۳/۶/۳ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت محاکم استیناف و ابتدائیه، تدویر جلسه پیرامون فعال شدن برخی از محاکم که تا هنوز فعال نگردیده بود، رهنمائی های لازم غرض بهبود اجراآت قضائی و اداری محاکم آن ولایت، شناسائی و رفع چالش های موجود غرض بهبود و رسیده‌گی به موقع به قضایای وارده و همچنان غرض تکمیل نصاب قضائی یک تعداد محاکم که تا هنوز نصاب قضائی شان تکمیل نبوده از یک تعداد علماء غرض استخدام منحیث قاضی، مفتی و محرر امتحان اخذ گردید.

۳- **در محاکم ابتدائیه ولسوالی های شکر دره، گلدره، بگرامی و ده سبز ولایت کابل:** به تاریخ ۱۴۴۳ /۶/۲۹ هـ ق نظارت و بازدید از محاکم ابتدائیه ولسوالی های مذکور غرض بهبود امورات قضائی و اداری و رسیده‌گی به موقع به قضایای وارده و ارائه راهکار های لازم جهت رویه واحد قضائی و اجراآت سالم صورت گرفت.

۴- **در محکمه استیناف ولایت ننگرهار:** به تاریخ ۱۴۴۳ /۶/ ۶ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت محاکم استیناف و ابتدائیه، تدویر جلسه پیرامون فعال شدن برخی از محاکم که تا هنوز فعال نگردیده بود، رهنمائی های لازم غرض بهبود اجراآت قضائی و اداری محاکم آن ولایت، شناسائی و رفع چالش های موجوده غرض بهبود و رسیده‌گی به موقه قضایای وارده صورت گرفته است.

۵- **در محکمه استیناف ولایت پکتیکا:** به تاریخ ۱۴۴۳ /۶/۷ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت محاکم استیناف و ابتدائیه، تدویر جلسه پیرامون فعال شدن برخی از محاکم که تا هنوز فعال نگردیده بود، رهنمائی های لازم غرض بهبود اجراآت قضائی و اداری محاکم آن ولایت، شناسائی و رفع چالش های موجوده غرض بهبود و رسیده‌گی به موقوع قضایای وارده شده است.

۶- **در محکمه استیناف ولایت خوست:** به تاریخ ۱۴۴۳/۷/۹ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت محاکم استیناف و ابتدائیه، رهنمائی های لازم غرض بهبود اجراآت قضائی و اداری محاکم آن ولایت، شناسائی و رفع چالش های موجوده غرض بهبود و رسیده‌گی به موقوع قضایای وارده و حسب ضرورت از تعداد (۳۳) نفر علماء غرض استخدام منحیث مفتی و محرر جهت تکمیل نمودن نصاب قضائی آنعده محاکم که تا هنوز نصاب قضائی شان تکمیل نمی باشد امتحان اخذ گردیده است.

۷- **در محکمه ابتدائیه ولسوالی متاخان ولایت پکتیکا:** به تاریخ ۱۴۴۳/۷/۱۲ هـ ق رسیده‌گی به شکایت موسی ولد غازی خان مسکونۀ ولسوالی متی خان راجع به اجراآت ناعادلانه رئیس محکمه ابتدائیۀ آن ولسوالی پیرامون قضیۀ حقوقی شاکی رسیده‌گی صورت گرفته است.

۸- **در محکمه ابتدائیه زون چهارم شهر کابل:** به تاریخ ۱۴۴۳/۷/۱۱ هـ ق رسیده‌گی به عریضه ضیاءالدین باشندۀ شهر کابل راجع به لت و کوب پسرش بنام احمد رامز که گویا به امر قاضی موظف دوسیه در محکمه مذکور غرض اخذ اقرار شکنجه گردیده باشد.

۹- **در محکمه استیناف ولایت لغمان:** به تاریخ ۱۴۴۳ ۷/۱۴ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت قضائی و اداری دواوین استیناف، شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها غرض بهبود و رسیده‌گی به موقع قضایای وارده، اخذ امتحان از تعداد (۵۵) نفر علماء غرض استخدام منحیث قاضی، مفتی و محرر جهت تکمیل نمودن نصاب قضائی آنعده محاکم که تا هنوز نصاب قضائی شان تکمیل نمی باشد، تثبیت تقرری قضات مربوطه آن ولایت و نظارت از تدویر سیمینار آموزشی برای قضات آن محکمه شده است.

۱۰- **در محکمه استیناف ولایت نورستان:** به تاریخ ۱۴۴۳ ۷/۱۵ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت قضائی و اداری دواوین استیناف، شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها غرض بهبود و رسیده‌گی به موقع قضایای وارده، نظارت از کارکرد قضات تعیین شده، تثبیت تقرری قضات مربوطه آن ولایت و نظارت از تدویر سیمینار آموزشی برای قضات آن محکمه شده است.

۱۱- **در محکمه استیناف ولایت کنر:** به تاریخ ۱۴۴۳/۷/۱۶ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت قضائی و اداری دواوین استیناف، شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها غرض بهبود و رسیده‌گی به موقع قضایای وارده، تثبیت تقرری و اخذ امتحان از تعداد (۷) نفر علماء غرض استخدام منحیث قاضی، مفتی و محرر جهت تکمیل نمودن نصاب قضائی آنعده محاکم که تا هنوز نصاب قضائی شان تکمیل نمی باشد و نظارت از تدویر سیمینار آموزشی برای قضات آن محکمه شده است.

۱۲- **در محکمه استیناف ولایت هلمند:** به تاریخ۱۴۴۳/۷/۱۴ هـ ق نظارت و بازدید از روند اجراآت قضائی و اداری محاکم ابتدائیه ولسوالی های نادعلی، گرشک، موسی قلعه و گرمسیر و تدویر جلسه غرض رهنمائی های لازم به منظور پیشبرد امورات قضائی و اداری همراه با رئیس محکمه استیناف آن ولایت صورت گرفت .

# د خوست په استیناف محکمه کې اداري غونډه وشوه

د خوست د استیناف محکمې مسوولین وايي چې د تېرې شنبې په ورځ د دغه ولایت په استیناف محکمه کې د دې محکمې د رییس مولوي عبدالکریم (حقاني) په مشرۍ اداري غونډه ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د خوست ولایت د استیناف، ښاري او ولسوالیو محاکمو او د ټولو دیوانونو رییسانو او غړو او د استیناف محکمې اداري کارکوونکو ګډون کړی و، او په یو لړ اړینو مسایلو یې بحث او خبرې وکړې.

د خوست د استیناف محکمې رییس مولوي عبدالکریم حقاني د ټولو دیوانونو قضاتو ته لارښوونه وکړه چې کوښښ وکړئ په خپلو اجراآتو کې د محاکمو استقلالیت او بېطرفي وساتلای شئ.

هیڅ وخت د چا تر تاثیر لاندې مه راځئ او زیات متوجه اوسېږئ چې محاکمو ته فاسد اشخاص او کړی لار پیدا نه کړي.

ده زیاته کړه چې هېڅکله د یو چا د حقوقو د ضایع کیدو سبب مه کیږئ او د مراجعینو غوښتنو او عرایضو ته د شریعت او قانون د احکامو په رڼا کې په ټاکلي موده کې رسېدنه وکړئ.

ورپسې د خوست د ښاري ابتدائیه محکمې رییس په خپلو خبرو کې د ځینو اداري او تشکیلاتي موضوعاتو په اړه معلومات ورکړل.

د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کې د خوست ولایت ټولو محاکمو او دیوانونو ته د عامه خلکو مراجعه ډېره شوې، او په منځنۍ کچه هره ورځ تر سلو ډېر کسان یادې محکمې ته مراجعه کوي.

# گزارش جلسۀ اداری و قضائی محکمۀ استیناف ولایت جوزجان

مسؤولان محکمۀ استیناف ولایت جوزجان میگویند که به تاریخ ۱۴۴۳ /۷/۱۶ تحت ریاست الحاج مفتی عبدالوهاب (زاهد) رئیس عمومی محکمه استیناف این ولایت جلسۀ اداری و قضایی تدویر یافت.

در این جلسه اداری و قضائ که در صالون این ریاست برگزار شد، شیخ سید عبدالعزیز"مومن دوست" عالم جید کشور، رئیس محکمه شهری، رؤسای دیوان‌های استیناف، رؤسای محاکم ابتدائیه، رؤسای دیوان‌های شهری و آمر تحریرات محکمه استیناف ولایت جوزجان اشتراک ورزیده بوده اند.

در این جلسه که با تلاوت آیات از کلام الله مجید آغاز شد نخست رئیس محکمه استیناف روی برخی موضوعات مهم صحبت های همه جانبه نمود.

رئیس محکمۀ استیناف بر اجراات راپور حاضری (۲۵) روزه به وقت و زمان معین آن طبق هدایت مقام عالی ستره محکمه تأکید کرد.

موصوف اظهار داشت که پول عواید محکمه به وقت و زمان معین آن از طرف محررین پانزده درپانزده که بیشتر از یکماه نشود تحویل شود و همچنان تعرفه های که نزد محاکم وجود دارند طبق کود آن تحریر داشته باشند.

او بر تحریر درست وثایق از طرف محاکم ولسوالی ها نیز تاکید کرد و خطاب به پرسونل محاکم گفت پابند حاضری باشند و بدون موجب محل وظیفه را ترک ننمایند.

رئیس محکمۀ استیناف افزود از گشت و گزار بی‌مورد در حین اوقات رسمیات خودداری کنید، جدول دسترسی زنان به حق میراث و ملکیت آن طبق هدایت مقام ستره محکمه خانه پری نمایید و در اسرع وقت در مورد دوسیه های جزائی و مدنی اجراآت نمایید.

سپس رئیس روی اصول محاکمه، عواید محکمه از نگاه شرعی و طرز ترتیب استهداات صحبت نمود و گفت که قضات مطابق دستورات الهی عمل نموده، از این طریق تقوا را به پیش گرفته تا عدالت به وجه احسن تأمین گردد.

# هیئت محاکم کندز از مدیریت زندان‌ها و توقیف خانه‌های ولسوالی های این ولایت دیدار کرد

مسؤولان محکمۀ استیناف ولایت کندز میگویند که به تاریخ ۱۴۴۳/۷/۱۳ هیئت تحت ریاست مولوی سردار "مهاجر" رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری ریاست محکمۀ استیناف کندز به سلسله بازدید‌های همیشگی شان از مدیریت زندان و توقیف خانه های ولسوالی های ولایت کندز نظارت و بازدید به عمل آورده اند.

این هیئت به اساس هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله و حکم مقام ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان متشکل از معاون محترم مقام ولایت کندز، رئیس محترم معارف و رئیس محترم امربالمعروف و نهی عن المنکر بوده است.

هیئت مذکور محبوسین که دوسیه های شان قابل دوران نبوده و جرایم خفیف داشتند و ضمناً کدام ادعای حق العبدی علیه شان صورت نگرفته از حبس به ضمانت رها کرده اند.

منبع افزوده است هیئت فوق الذکر با مسؤلین و محبوسین راجع به اعاشه و اباطه و وضعیت صحی، جلوگیری امراض و برخورد سالم مطابق ارشادات دین مبین اسلام، صحبت های همه جانبه داشته و مسؤلین را متوجه امور محوله نموده و کدام شکایت خاص زندانیان نداشتند که به رفع آن پرداخته می‌شد.

# د پکتیکا ولایت اړوند محاکمو ترمنځ د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د پکتیکا ولایت د استیناف محکمې مسوولین وايي چې په ۹ /۷/ ۱۴۴۳نېټه د دغه ولایت د استیناف محکمې په تالار کې د محاکمو د همغږۍ ناسته ترسره شوه.

د سرچینې په خبره، په دې ناسته کې د محاکمو د کار او فعالیت او نورو پرمختګونو په موخه لازمې مشورې او خبرې وشوې.

دغه راز د پکتیکا استیناف محکمې عمومي رییس د غونډې له ګډونوالو سره هغه هدایات شریک کړل چې د سترې محکمې له خواه په مکتوبي بڼه له دغه ریاست سره شریک شوي وو.

پر دې سربېره د ابتدائیه محاکمو رییسانو هم ناسته کې خپل وړاندیزونه او پیشنهادونه وړاندې کړل.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې د پکتیکا ولایت د ښاري محکمې، د وازه خواه، جانخیل، خوشامند، برمل، ارګون، نکې، ډیلي، خیرکوټ، چاربران، سرحوضي او ګومل ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو ټولو رییسانو، مفتي صاحبانو او محررینو ګډون درلود.

غونډه اسلامي نظام ته د بقا او ثبات په دعا پای ته ورسېده.

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه
ځرګندويه خپرونه په مياشت کې درې ځله چاپيږي

سرپرست مسوول مدير: مولوي عبدالبصير(مشعل)
اديتور: جواد الله (جاهد)
ډيزاين : وحيدالله (اسديار)

# فعالیت‌ها و دست آوردهای محکمۀ استیناف ولایت کابل

### برگزاری جلسه جهت معرفی رئیس محکمه مرافعه ولایت کابل

در این جلسه که پیرامون معرفی رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کابل دایر گردیده بود، ابتداء جلسه با تلاوت آیات از کلام الله مجید آغاز و بعداً محترم شیخ عبدالمالک معاون اداری ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان در مورد اهمیت قضاء در اسلام، شفاف بودن قضاوت توسط قضات، برخورد خوب با مراجعین و ارائیه خدمات قضائی طبق احکام شریعت برای مردم سخنرانی کرد و مولوی عبدالرحمن "غزنوی" رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کابل را به اشتراک کننده گان معرفی نمود.

سپس مولوی عبدالرحمن "عزیزی" رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کابل وعده نمود که هر نوع خدمت که از توان‌اش باشد ان‌شاءالله طبق احکام شریعت انجام خواهند داد.

در ادامه قاری احسان الله "بریال" والی ولایت کابل صحبت نمود و همکاری همه جانبه خود را با محکمه مرافعه کابل ابراز نمود.

### معرفی رؤسا، مفتیان و محررین دواوین استیناف ولایت کابل

این جلسه جهت معرفی رؤسا، مفتیان و محررین دواوین محکمه مرافعه کابل تحت رهبری مولوی عبدالرحمن " غزنوی " رئیس محکمۀ مرافعۀ این ولایت دایر گردیده بود.

جلسه با تلاوت آیات از کلام الله مجید آغاز گردید، بعداً هر یک از رؤسا، مفتیان و محررین دواوین استینافی را در دیوان های مربوطه شان معرفی نموده‌اند.

رئیس محکمه مرافعه ولایت کابل ضمن معرفی رؤسا، مفتیان و محررین دواوین محکمه مرافعه این ولایت برای هر یک از ایشان جهت پیشبرد وظایف شان هدایت لازم داد.

### معرفی رؤسا، مفتیان و محررین محاکم ابتدائه زون‌های چهارگانۀ ولایت کابل

این جلسه به رهبری مولوی عبدالرحمن " غزنوی " رئیس محکمه مرافعه ولایت کابل و اشتراک والی ولایت کابل قاری بریال جهت معرفی رؤسا، مفتیان و محررین محاکم ابتدائه زون‌های چهارگانۀ ولایت کابل دایر گردیده بود.

جلسه با تلاوت آیات از کلام الله مجید آغاز گردید بعداً هر یک از رؤسا، مفتیان و محررین محاکم ابتدائیه زون های چهارگانۀ ولایت کابل را در محاکم مربوط معرفی نمودند و حین معرفی جهت پیشبرد وظایف شان برای هر یک ازا آن‌ها توسط رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت هدایات لازم داده شد.

### تدویر جلسۀ تعارفی و هماهنگی کارمندان دواوین استینافی، محاکم ابتدائیه مرکز و ولسوالی‌های کابل

این جلسه به ریاست مولوی عبدالرحمن " غزنوی " رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کابل و اشتراک کارمندان دواوین استینافی، محاکم ابتدائیه مرکز و ولسوالی های ولایت کابل برگزارگردیده بود .

جلسه ذکرشده با تلاوت آیات از کلام الله مجید آغاز شد، بعداً رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کابل ضمن خوش آمدید به تمام حاضرین، در رابطه به اهمیت مقام قضاء و قضاوت بین مردم بطور احسن، طبق احکام شریعت محمدی (ص)، برخورد نیک با مراجعین و همکاران، رسیده‌گی به موقع به مشکلات مردم و قضایا سخنرانی کرد و جهت پیشبرد وظایف برای تمام ایشان هدایات لازم داد.

بعداً تمام کارمندان دواوین استینافی، محاکم ابتدائیه مرکز و ولسوالی‌های ولایت کابل با هم تعارف حاصل نمودند و جلسه اختتام یافت.

### بازدید رئیس محکمه استیناف کابل از دفاتر دواوین استینافی و محاکم ابتدائیه زون‌های چهارگانه

مولوی عبدالرحمن " غزنوی " رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کابل از تمام دفاتر دواوین استینافی محکمۀ استیناف ولایت کابل دیدار کرد، به مشکلات کارمندان گوش داده و وعده نمود که در اسراع زمان به مشکلات ایشان رسیده‌گی خواهد کرد.

بعداً جهت بازدید راهی محاکم ابتدائیه زون های چهارگانه گردید، از دفاتر محاکم مذکور دیدار کرد و جهت پیشبرد امور محوله به ایشان هدایات لازم داد.

## په میدان وردګ ولایت کې د اداري کړنو د پوهاوی په موخه یو ورځنی روزنیز سیمینار جوړ شو

د ۱۴۴۳ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په ۱۵ نېټه د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې د غونډو په تالار کې د اداري کړنو د پوهاوي په موخه یو ورځنی روزنیز سیمینار جوړ شو.

په دغه سیمینار کې د استیناف محکمې د دیوانونو، د ښاري محکمې د دیوانونو او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو قضاتو او اداري کارکوونکو ګډون کړی و.

د سیمینار په پیل کې د استیناف محکمې رییس ښاغلي مولوي امان الله (حامد) ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او د یاد روزنیز پروګرام د جوړولو او ارزښت په تړاو یې خپله عالمانه وینا وکړه.

د استیناف محکمې رییس وویل، د دغه ډول سیمینارونو اوپروګرامونو په جوړولو سره مونږ کولای شو په اداري کړنو کې شته ستونزو ته د حل لارې ولټوو او د یوې منظمې اداري د پر مخ بېولو لپاره کار وکړو.

وروسته د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې د تحریراتو امر ښاغلي سیدرحمن (امیرزی) چې د یاد سیمینار د ارایې چارې یې په غاړه وې، په لومړی قدم کې د حقوقي او جزایي موضوعاتو او د مراتبو د سلسلې په اړه خبرې پیل کړې.

د دې تر څنګ نوموړي د هرې ربعې د حقوقي او جزایي راپورونو د جوړولو، د وثایقو ، د عوایدو ، د حاضرۍ میاشتني راپور ، د معاشونو د اجراء د حاضرۍ راپور ، د ضرورت وړ قرطاسیې د حواله کولو او الکترونیکي سیستم ته د حقوقي او جزایي دوسیو د ثبتولو او دې ته ورته نورو هغه موضوعاتو چې محترم قضات او اداري کارکوونکي په ورځنیو چارو کې ورسره مخ دي په اړه بشپړ پوهاوی ورکړ او د سیمینار په وروستیو شېبو کې له ټولو قضاتو او اداري کارکوونکو څخه غوښتنه وشوه چې خپلې پوښتنې مطرح کړي.

له پوښتنو ځوابولو وروسته د سیمینار ټولو ګډونوالو د تحریراتو له امر ښاغلی سید رحمن (امیرزی) څخه مننه وکړه چې په پوره زغم یې د ټولو ګډونوالو پوښتنو ته د اصولو مطابق ځوابونه وویل.

په پای کې د استیناف محکمې رییس مولوي امان الله (حامد) د داسې نورو ښوونیزو برنامو او سمینارونو د جوړولو یادونه وکړه او دغه سیمینار یې د دعاء په ویلو پای ته ورساوه.

## د پکتیا ولایت د استیناف محکمې رییس د عدلیې ریاست د حقوقو له امر سره وکتل

د پکتیا ولایت د استیناف محکمې مسوولین وایي چې د ۱۴۴۳هـ ق کال د اوومې میاشتې په څلورمه نېټه د دې محکمې رییس مفتي عبیدالله (خالد) د یاد ولایت د عدلیې ریاست د حقوقو له امر مولوي عزت الله سره په لیدنه کې د حقوقي او تجارتي موضوعاتو په اړه خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې چې د پکتیا د استیناف محکمې د رییس په کاري دفتر کې ترسره شوه د استیناف محکمې رییس مفتي عبیدالله (خالد) د یاد امریت مسوولینو ته د حقوقي او تجارتي موضوعاتو په اړه بېلابېلې سپارښتنې وکړې.

مفتي عبیدالله (خالد) وویل، له خلکو سره نېکه رویه وکړئ او تل له محاکمو سره همغږي اوسئ ترڅو د پکتیا ولایت د اوسېدونکو ستونزې پر ټاکلي وخت حل شي.

د پکتیا ولایت د عدلیې ریاست د حقوقو امر د دغه ولایت د استیناف محکمې رییس ته ډاډ ورکړ چې مونږ به تل د شریعت په رڼا کې خپلې چارې ترسره کوو، څو د الله (ج) رضا حاصل او د خلکو ستونزو ته رسېدنه وشي.

## رئیس محکمۀ استیناف کاپیسا با مسؤولان ولایتی آن ولایت ملاقات کرد

مسؤولان محکمۀ استیناف ولایت کاپیسا می‌گویند که رئیس این محکمه به خاطر بهبود و بلند بردند سطح محکمه با مولوی اسدالله «سنان» معاون والی و رئیس ځارنوالی استیناف کاپیسا ملاقات و صحبت همه جانبه نمودند.

مولوی اسدالله «سنان» معاون والی و رئیس ځارنوالی استیناف کاپیسا طی این ملاقات از رئیس محکمه استیناف اظهار سپاس و امتنان نمودند و وعده کردند که در عرصه های مختلف با محکمه مرافعه همکاری می کنند.

در اخیر از رئیس محکمه شهری کاپیسا پرسشی مطرح شد که شما به غرض بازدید محبوسین توظیف شده بوده اید که ازاجراات کاری تان گزارش دهید.

### گزارش بازدید از محبوسین وزندانهای ولایت کاپیسا

یک هیئت مشخص که معاون ولایت کاپیسا و رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر این ولایت نیز در تشکیل آن حضور داشت بخاطر بررسی و نظارت محبوسین از زندان های این ولایت بازدید به عمل آورد.

اعضای این هیئت به مسؤولان زندانها رهنمائی کرد که همراه با محبوسین روش نیک داشته و به ضروریات محبوسین رسیده‌گی نمایند.

این هیئت جریان بازدید از زندان های لیست ذیل را ترتیب کرده است:

۱. به تعداد (۵۳) محبوسین در نظارت خانۀ قوماندانی امنیه ولایت کاپیسا زندانی بوده‌اند.

۲. به تعداد (۸۳) نفر در محبس عمومی ولایت کاپیسا زندانی بوده‌اند. که از آن جمله (۷۵) نفر متعادین مواد مخدر و به تعداد (۷) نفر دعوی حقوقی داشتند که به اخذ تضمین رها شدند،

۳. در ولسوالی نجراب به تعداد (۵۰) نفر زندانی بوده‌اند که از این جمله (۱۹) نفر معتاد بر مواد مخدر و (۳۱) نفر دیگر قضایای جزایی و جنایی داشتند.

٤. در ولسوالی تگاب به تعداد (۲٤)نفر زندانی بودند که از آن جمله به تعداد (٤) نفر به جرم جنایی و به تعداد (٤) نفر آن دعوی حقوقی، به تعداد (۱۲) نفر آنان مبتلا بر مواد مخدر بوده‌اند، یک نفر دیگر مربوط محکمه بود.

۵. در ولسوالی الـه سای ۲ نفر زندانی بودند که هر دوی آنها مبتلا بر مواد مخدر بودنده‌اند

سرانجام افرادی که مبتلا بر مواد مخدر بودند حکم رهائی داده شد و افرادی که دعوی حقوقی و جزائی داشته به محکمۀ ځارنوالی معرفی شده اند .

## د غزني د استیناف محکمې رییس د دغه ولایت له زندانونو لیدنه وکړه

د غزني ولایت د استیناف محکمې رییس مفتي عبدالشکور (رشاد ) په ۱٤٤۳/۷/۲۱ نېټه د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه.

د استیناف محکمې رییس په دې لیدنه کې د بندیانو د احوال پوښتنه وکړه او د هر بندي څخه یې د لمانځه د ځای، خوراک او د مجاهدینو د چلند په اړه معلومات وغوښتل، خو الحمدلله چې بندیان د اسلامي امارت د سرتېرو له چلند ډېر خوشحاله وو او څه شکایت یې نه درلود.

د استیناف محکمې رییس په توقیف خانه کې د شته بندیانو په اړه ځارنوالۍ ته سپارښتنه وکړه چې دوسیې یې ژر تر ژره اړوند محکمې ته یوسي.

د استیناف محکمې رییس د (زوارشاه د جان علي زوی، محمدهاشم د چمن علي زوی او حسین علي د غلام حیدر زوی) په نوم د هغو درېیو بندیانو چې د تېرې فاسدې اداري پر مهال د قتل په تور بندیان شوي وو خو د مقتول کورنۍ اقرار وکړ چې یاد کسان زموږ قاتلین نه دي او تېرې فاسدې اداري د خپل رشوت په وجه بندیان کړي، آزاد کړل او اړوند محکمې ته یې حکم وکړ چې د اصلي مجرمانو په باره دعوی ته جریان ورکړي.

میزان
دلیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو اومطبوعاتو ریاست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳۹۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۹۳